دافـغانســـتان د بانكـونـو ټولـــنه
Afghanistan Banks Association

# د افغانستان د بانکونو ټولنې  له خواه مطبوعاتي اعلاميه

د پنجشنبي ورځ د۱۳۸۹کال د وري په ۱۱ د افغانستان د بانکونود ټولنې غړو بانکونو په ټولنه کې استراري غونده وکړه.

په غونده کې د هیواد په مالي او بانکي حالاتو باندې خبرې وشوې او په پایله کې یې یوه اعلامیه په لاندې ډول تصویب او خپره کړه.

1. موږ د افغانستان د بانکونو ټولنې ټول ۱۷ غړي بانکونه په یوه غږ سره ټولې هغه ګنګوسې چې د کابل بانک په اړه د ځینو رسنیو له خواه خپرې شوې دروغ ګڼو او هغه ردوو.

2. موږ د ټولنې په همغږی د ځینو بهرنیو رسنیو له قوله ټول هغه تورونه په کلکه ردوو چې ګنې د کابل بانک دوه جګپوړي چارواکي له خپلو دندو څخه په زوره استعفا ته اړ ایستل شوي دي.

3. مونږ د افغانستان بانک د اعلامیې په تعقیب دا خبره په ټینګار سره کوو چې کابل بانک کومه ستونزه نلري او د هیواد یو له غښتلو بانکونو څخه دی.

4. مونږه ټول بانکونه د بانکی سکتور د فعالو غړوپه صفت د کابل بانک بشپړ ملاتړ کوو او د هر مشکل په وخت کی ورسره ولاړیو.

5. همدارنګه د افغانستان د بانکونو ټولنه او د ټولنې ټول غړي بانکونه ټولو هیوادوالو په ځانګړې توګه د کابل بانک پیرودونکو ته ډاډ ورکوي چې په کابل بانک کې د هغوی شتمنی او امانات خوندي دي او په دې اړه هیڅ کومه اندیښنه شتون نه لري.

- **ګران هیوادوال دې ډاډه اوسي**

په درنښت

د افغانستان د بانکونو ټولنې مشرتابه هیئت